محمد نواز حقیقت سانین د۲۰۱۴م کال د نومبر ۱۸

د خپلواکۍ خواږه یادونه
(د انګریزانو په وړاندې د کونړ د ولسونو د میرنتوب کیسې او نکلونه)

(لومړۍ برخه)

سریزه

ددې لیکنې په هکله مې د هیواد نامتو لیکوال او د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی حبیب الله رفیع سره چې د ټولو افغانانو لپاره د درناوي وړ شخصیت ګڼل کیږي مشوره وکړه، هغه راته په ډېره مهربانۍ وویل، چې ددې تاریخي کیسو لیکل د وطن او ولسونو لپاره یو تاریخي ویاړ دی او د تاریخ په زرینو پاڼو کې ددې کیسو خوندي کول د فرهنګیانو او وطنپالو سپیڅلې دنده ده، د هغه همدا هڅونه وه، چې زه یې په خوږه مینه ورته تشویق کړم او ددې تاریخي کیسو په اوریدو او لیدو ډېر خوشحاله شو.

دا هغه کتابګوتۍ دی، چې زه یې لیکلو ته خپل افغاني احساس مجبور کړم، دا هغه کتاب دی، چې زموږ ولسونو په خپلو سترګو دا حالات لیدلي دي. دا چې د کونړ او چترال جبهه د افغانستان د استقلال د څلورمې جبهې په نامه یادېږي، نو ددې تاریخي جبهې مرکز د کونړ ولایت د ناړۍ ولسوالۍ مرکزي ساحه وه. په بریکوټ، دوکلام، پاشنګر او باغچه کې د افغان اتلو غازیانو مورچلونه وو. بریکوټ او دوکلام ته مخامخ د ارنوی کلی دی، چې په هغه وخت کې د انګرېزانو پوځیان د عصري وسلو سره په کانکریټي (سیمټي) مورچلونو کې او سیدل او شاوخوا ته، لکه لام بربټ، کواتی، دمیل، میرکندی او نورو لوړو غرنیو ساحو کې د انګرېزانو پوستې او ګروپونه ځای پر ځای شوي وو، خو د شاوخوا پوستو مرکزي ساحه د ارنوی تانه وه، چې دلته د انګرېزانو مسوول مشران او د چترال د پاچا(مهتر) پوځي عسکر له خاصو کسانو سره یوځای په دې قرارګاه کې شپه او ورځ ویښ او تیارسۍ پراته وو.

د انګرېزانو او دچترال دپاچا (مهتر) هدفونه او ارمانونه یو شـــان وو، د انګرېزانو لویه عمومي قوماندانې او قرارګاه په چترال (جونال) کې وه او زیات پوځونه په دروش کې ځای پر ځای وو.

انګرېزانو پلان درلود، چې د افغانستان خاورې ته د ارنوی پر لار راننوځي او له دې لارې اسمار- چغسرای ته ځانونه ورســوي او د جلال اباد جبهه کمزورې کړي او افغاني غازیانو او مجاهدینو ته نوې جنګي پېښـــې رامنځته کړي، چې د جلال اباد افغان پوځیان او غازیان پر دوو برخو ووېشـل شـــي، پښـــتو متل دی، چې وایي: عزت او ذلت د لوی خدای په اختیار کې دی.

په هغه وخت کې، چې د جلال اباد په جبهه کې شـاوخوا ته د انګرېزانو له خوا تاوده جنګونه روان وو، د کونړ په اسمار کې هم پوځونه ځای پر ځای وو، په دغه وخت د ارنوی او ناړۍ سیمې ته د پوځیانو له خوا دومره توجه نه وه، د غازي میرزمان خان په تدبیر او اراده، چې د کونړ یو غښتلی پوځي قوماندان و، نوموړي په خپل نوښت له لوړو مقاماتو او په

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځانګړې توګه غازي امان الله خان سره نږدې د وروري او ملګرتوب اړيکې لرلې ، د ناړۍ د بريکوټ سيمې ته د لښکر او پوځيانو ، چې ارنوۍ ته مخامخ پراته دي، د تلو پرېکړه وکړه. په خپله غازي ميرزمان خان د سـرلښـکر په توګه له خپلو غازيانو مجاهدينو لښکر سره د کونړ او چترال جبهې اساسي مرکزي ساحې ته، چې تاريخي، جغرافيايي، سياسي او پوځي ارزښت يې درلود، ځان ور ورساوه.

دا هغه وختونه او شيبې وې، چې انګرېزانو تر اسمار پورې د راتګ پلان درلود او له اسمار نه تر بريکوټ ناړۍ پورې کوم پوځي قوت نه و. کله چې غازي ميرزمان خان په ناړۍ او بريکوټ کې ځای پر ځای شـو او خپل لښـکريان يې په بريکوټ، دوکلام، باغچه، سلام کوټ او نورو هسکو ځايونو کې ځای پر ځای کړل، نو په ارنوۍ يې بريدونه او يرغلونه شروع کړل، د انګرېزانو ناکامې ولسونو ته څرګنده شوه، د نورستان ولسونه، چې نوې د اسلام په مقدس دين مشرف شوي وو، له هغو سره هم انګرېزانو او د چترال پاچا (مهتر) پټ راز و نياز او اړيکې سره ټينګې کړې وې، انګرېزانو فکر کاوه، چې د نورستان ولسونه به له موږ سره مرسته کوي، نو کله چې غازي ميرزمان خان ناړۍ بريکوټ کې لکه غر په ميدان ودرېد، نو د نورستان ولسونو هم د لوی خان ملاتړ اعلان کړ او د انګرېزانو او چترالیانو ارمانونه، اهداف او دسيسې له خاورو سره خاورې شوې.

دا خبره دې پاتې نه وي، چې انګرېزانو د چترال غـــــلام پاچـــــا (مهتر)ته وعده ورکړې وه، چې کله موږ د ارنوۍ پر لار اسمار، چغسرای او جلال اباد ته ورسيږو، نو تر اسمار پورې سيمه به له چترال سره وتړو.

ډېرو درنو ليکوالو، پوهانو او لوستونکو!

ددې کتاب دبشپړولو په وخت کې مې له چاپې کتابونو، مجلو، ورځپاڼو او يا له نورو آثارو استفاده نه ده کړې، خو دا چې زموږ هيواد ډېر لرغوني تاريخونه لري او حتی زموږ د تاريخونو زياتې برخې د هيواد دښـمنانو قصـــدي پټې کړې او سـوزولې دي، ددې لپاره، چې د اسـتقلال د څلورمې جبهې د بريالیتوبونو، د غازيانو د ميړانې او د غازي ميرزمان خان په اړه دلته په ولسونو کې د کتاب ذکر شوې کيسې له کلونو راهسې له يوه نسل نه بل ته پاتې دي او د استقلال د جبهې د باتورو لښـــکريانو کيســـې ډېرې خوږې او په زړه پورې دي، نو بايد چې ورکې نه شـــي. دا د افغان ولســـونو او د افغان فرهنګپالو اديبانو دنده ده، چې په خپلو ولســـونو او د خپلو ولســـونو په اتلانو او کارنامو د تل لپاره وويارې او د تاريخ زرينو پاڼو ته دغه نالوستې کيسې او کارنامې وسپارې، دا ژوندۍ کيسې ما په وار وار د خپلو ولسونو له خولې اورېدلې وې او اورم يې، نو زما افغاني احســـاس په مينه ومنله، چې دا د هيواد او د هيواد د اتلانو په اړه تاريخي نه هېرېدونکې يادونه وليکل شـــي، د هيواد نامتو ليکوال او شـــاعر مرحوم عبدالخالق اخلاص د اســـتقلال د څلورمې جبهې په نوم کتاب ليکلی، چې خوږې کيســـې او کارنامې يې نظم کړې دي، نو دا ښـــکاره خبره ده، چې د هيواد په ويارونو او تاريخي پېښـــو ډېر ليکوال او څيړونکې ليکنې کوي، زه د اخلاص صاحب کار ته په ډېره درنه سترګه ګورم.

څه چې ما د پخوانيو ژونديو تاريخي ولسونو د سترګو ليدلې حالات ليکلي دا برخه هم د قدرمن ليکوال اخلاص صاحب د ليکنو ادامه بولم. مرحوم اخلاص صـاحب د کونړ او د هيواد په کچه يو پيژندل شـوی ليکوال و، چې د مهاجرت په کلونو کې پر (١٣٦٦ل) کال د پښتونخوا په صوابۍ کې په حق ورسيد او يادونه به يې تل زموږ په تاريخ او د ولسونو په تاريخ کې ژوندي وي، موږ د هغه ادبي _ فرهنګي هڅو ته په درناوي سره ګورو او هغه ته جنتونه غواړو.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

ددې کتاب د ترتیب او تکمیل لپاره ما ډېر کلونه کار کړی دی، له نن نه ډېر مخکې د سردارمحمد داود خان د جمهوریت په کلونو کې له غزني ولایت څخه کونړ ته لاړم، ټولو ته ښـــکار ده، چې د دېرش کلنو جګړو مخکې به کلیوالو په دېرو هوجرو کې خصـوصـي سـازونه او مجلسـونه او بنډارونه کول، چې زه هم ناڅاپي یوې دېرې ته، چې مجلسـیانو سـندرې ویلې ولاړم، د سیتار، منګي او شپیلۍ خوږ ټنګ ټکور په پوره شور سره شروع و او دغه سندره یې په خواږه اواز سره په خوند ویله:

وتلی د چترال نه سر اوچت میرزمان خان
خوشحال دي ټول غازیان
خوشحال دي ټول غازیان

ما چې دا ســـندره واورېده، د ســـیتار په پردو او د منګي او شـــپیلۍ په اواز کې یې زما پر روح او مغزو خوږ او نه هیرېدونکی تاثیر وکړ، بیا مې څو ورځې وروسته له کلیوالو مشرانو پوښتنه وکړه، چې دا سندره چا لیکلې او ویلې ده؟

مشرانو راته د غازي میرزمان خان او د چترال د جنګونو په هکله معلومات راکړل، له هغه وخته د غازي میرزمان خان له کارنامو او میړانې خبر شوم او رښتیا خبره ده، چې په زړه کې مې له نوموړي اتل پښتون سره مینه پیدا شوه، کلیوالو مشرانو او د سیمې مشرانو دهغه په اړه ډېرې خوږې کیسې کولې، ماته به دغو کیسو او یادونو خوند راکاوه.

په هر صـــورت! دا کتاب (د خپلواکۍ خواږه یادونه) د خپلو درنو مشـــرانو او کلیوالو له خولې څخه او د اســـتقلال د څلورمې جبهې له د سترګو لیدلې حالات او د غازیانو په اړه یې کارنامې بیانولې، دوه تنه یې لا تراوسه ژوندي دي، چې یو مشر محترم نورمحمدکاکا چې د احمد شاه زوی په قوم کوهستانی او د ناړۍ د کلي اوسیدونکی دی او بل محترم مشر چې دده نوم هم حاجي نورمحمد کاکا، د نیاز محمد زوی په قوم پښـــتون چې د ناړۍ په زرو کڅ کې اوســـیږي او دواړه سپین ږیري مشران دي، خو د خبرو او کار توان لري، په زړونو بیدار او غښتلي د وخت مشران دي.

اسـتاد پیرمحمدخان واحدي، چې پلار یې ددې جبهې د خوراکي شـیانو حسـابدار په توګه له غازي میرزمان سـره یوځای وو، هغه راته د خپل پلار د خولې کیسې کړي دي.

نور احمد دین ملنګ، چې یو ښـــه شـــاعر او لیکوال و او د افغانســـتان یو تاریخ پوه ګڼل کیده او د ســـیمې په هکله له پخوا زمانو راهیسـې ټولې تاریخي پیښـې ورته ښـکاره وې، به ویل، چې زموږ مشـرانو به موږ ته دارنګه خوږې کیسـې کولې چې په سینه کې مې پرتې دي.

له نورو ډېرو ځایي سیمه ییزو مشرانو سره مې اړیکې نیولې دي، چې دا کیسې خپلو تیرو مشرانو ورته کړې وې.

ډېرو خوږو د ادب مینه والو ادبپوهانو د کتاب لوستونکو!

زه په دې خبره ویاړم، چې د هیواد د میړنو او ویاړمنو په هکله د هغوی یادونه لیکم، زموږ ګران او تاریخي هیواد پنځه زره کلن تاریخ لري او دا تاریخ ځلانده او لکه لمر روښـان دی، په دې هیواد او په دې خاوره کې ډېر ملي اتلان، ننګیالي او توریالي ددې خاورې په مینه د ننګونو په ډګرونو کې ســپیلني شــوي دي، هغو ولســونو او قومونو ته نور ویاړونه په نصـیب کیږي، چې د خپلو ملي اتلانو او ننګیالیو تاریخونه او یادونه وسـاتي او پرې وویاړي. د هغو ولسـونو او قومونو،

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

چې د خپلو ملي اتلانو او ننګياليو تاريخ نه لري او يادونه يې نه کوي تاريخي ويړونه خاورې ايرې کيږي، زموږ هيواد او زموږ ولسونه، چې ددې خاورې غيرتي اتلان دي بايد چې په قدر او ايمانداری او وطنپالنې په مينه وستايل شي، دا د اتلانو او ميړنيو د سربښندنو برکت او بريا ده، چې نن موږ په خپل استقلال ويړو. دا خاوره او دا ټاټوبی د عظمتونو او د غيرتونو او د ورونو قومونو او ولسونو د ننګونو ګډ کور دی.

دا خاوره او دا وطن په خپله غيږه کې د لرغونو زمانو خوږې خوږې کيسې لري، چې دا تاريخي، په زړه پورې، بوږنوونکې او هيبتناکه کيسې د افغان تاريخ په زرينو پاڼو کې ليدلای شو، حق خبره ده، چې پر خپلو ملي اتلانو وويړو، د خپلې خاورې پر لرغونتوب وويړو او پر ځان وويړو، چې د ويړمنو باتورو ولسونو بچيان يو، څوک چې په خپلو اتلانو مشرانو او په خپله خاوره او ټاټوبي وويړي، لوی خدای پاک يې لاپسې برکت او نيکمرغی په نصيب کوي او د خپلواکی خواږه يادونه، چې زموږ مشرانو تراوسه پورې په مينه تر موږ رارسولي، موږ يې بايد په هماغه ډول مينه او جذبه د تاريخ پاڼو ته وسپارو، ځکه په دې ويړونو کې ټولو افغانانو ته د ويړ درسونه شته.

په پای کې د هيواد د اتل بچي او د هيواد د ملي خپلواکی اعلانوونکي شخصيت (۱۲۹۸ل/۲۸/۵) غازي امان الله خان يوه خاطره رايادوه شوه:

کله، چې غازي امان الله خان د هيواد غيرتي غيږې پرېښودلو ته اړ او ايټاليې ته د خپلې کورنۍ له غړيو سره مهاجر شو او هلته يې ژوند اختيار کړ. شپږ کاله وروسته څو تنه افغان سوداګر ايټاليې ته تللي وو، يو ناڅاپه افغان سوداګر په يوه ځای کې د غازي امان الله خان پر استوګنځي سترګې لګيدلې وې، چې پر وره يې په پښتو ژبه ليکل شوي وو:

(د اعليحضرت غازي امان الله خان د اوسيدو ځای) د سوداګرو سترګې په دې ليکل شويو پښتو کليمو ولګيدې او سوداګرو په خپلو کې يو بل ته وکتل او حيران شول. يو تن سوداګر وويل، چې ښه خبره ده، چې له اعليحضرت غازي امان الله خان سره وګورو ، بل سوداګر وويل په کومو سترګو به ورسره وګورو؟ افغان ولسونه، خو دده په حق کې ملامت دي.

په هر صورت سوداګرو مشوره وکړه، چې حتمي يې ګورو.

د اعليحضرت د کور دروازې ته ودرېدل ، چې د غازي امان الله خان کوچنۍ لور دروازې ته راغله، افغان سوداګرو ته يې سلام وکړ او بيرته د خپل پلار غازي امان الله خان ته ولاړه او ورته يې وويل: پلاره ستا په شان سړي راغلي .

ددې خبرې په اورېدو په خپله غازي امان الله خان دروازې ته راغی او له افغان سوداګرو سره يې وليدل، يو بل يې په غيږ کې ونيول او دسوداګرو له سترګو اوښکې روانې وې.

غازي امان الله خان سوداګر کور ته دننه بوتلل، وايي سوداګرو غوښتل، چې د کيناستو او يا د ملاقات کوټه کې خپل بوټونه وباسي، خو غازي امان الله خان په ډېره مينه ورته وويل، ورونو بوټان مه وباسئ، سوداګر حيران شول ، غازي امان الله خان سوداګرو ته وويل: " بوټان ځکه مه وباسئ، چې ستاسې پر بوټانو به د افغانستان او زما د خاورې دوړې پرتې وي، په دې دوړو به زما کور او کوټه کې برکت پيدا شي."

نو تاسې وګورئ، چې ددې خاورې دوړې ملي اتلانو ته څومره لوړ قيمت لري، دا خاوره او دا وطن څومره مينه ناک بچيان لري، څومره مينه ناک اتلان يې په خپله غيږ کې روزلي دي، چې د نامه په اورېدو ټپي زړونه ټکورېږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په اخر کې له قدرمنو لیکوالو او ادب پالونکو ډېر په مینه هیله کوم، چې ددې کتاب (د خپلواکۍ خواږه یادونه) کې به ډېرې نیمګړتیاوې وي، چې په افغاني مینه، په افغاني احساس او په ډېره مهربانۍ یې سره اصلاح کړئ.

(دلومړۍ برخې پای)

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ